

## د خوست،

## مندوزیو سیمې ته یوه لنډه کتنه

د خوست لغوي مانا جزیره یا د دریاب په منځ کې وچې ته ویل کیږي، او دا امکان لري چې خوست یو وخت ټول اوبه وي ، ځکه د لویو حیواناتو د هډوکو له پیدا کېدو داسې مالومیږي چې دا سیمه یو وخت ټوله اوبه وه، خو کله چې یې د اوسني پاکستان په طرف مسیر پیدا کړ، نو د وچې شکل یې اختیار کړ.زما لیکنه د خوست د یوه ځانګړي قوم مندوزیو په اړه ده نو په خوست نورې خبرې نه لیکم راځم د مندوزیو سیمې ته تم کېږم.

د سیمې د پخوانیو سپین ږیرو د روایاتو له مخې سلهاوو کاله پخوا د مندوزیو سیمې د ځمکې مخ اوبو نیولی و او نوموړي سیمه یوه جبه زاره سیمه وه په دغه سیمه کې ډولې (ډیلې) او نور نباتات شنه وو ، ښکار چیانو به پکې ښکار کولو خو کله چې اوبه ورو، ورو په وچېدو شوه نو خلکو هم دغه ځای ته دراتلو مېلان وښود، لومړی شخص چې په دغه سیمه کې یې هستوګنه غوره کړه (مندو) و.
مندو د سمال (اسمعیل) ورور و، چې سمال په اسمعیلخېلو کې هستونګه غوره کړه ، دمندو او سمال (اسمعیل ) تر منځ د اوبو په مسله باندې شخړه پېښه شوه چې په دې شخړه کې دواړه څه نه څه سره ژوبل شول ، خو وروسته د دوی تر منځ روغه جوړه وشوه چې دوې شپې او ورځې اوبه د مندوزیو شوه او درې شپې او ورځې اوبه د اسمعیلخېلو شوه خو پاتې دې نه وي چې په دې سیمه کې د اوسېدو څخه مخکې د دې سیمې خلک د مندوزیو په شمال کې په صحرا کې اوسېدل او ورو ، ورو د مندوزیو جبه زارې سیمې ته چې اوبه یې په وچېدو وه راپورې شول او دشاړو ځمکو په آبادولو یې شروع وکړه .یو بل مهم ټکی هم د یادولو وړ بولم چې په دغه سیمه کې د شلو مترو په ژوروالي یو قبر هم پیدا شوی دی دا قبر دمندوزیو د سلمادیو (حسن محمد) په محل کې هغه وخت پیدا شو چې خلک د څاه په کېندلو بوخت وو ، په دغه قبر کې د انسان جسد موجود و ،نو له دې بشري اثر څخه مالومیږي چې په دغه سیمه باندې څو زره کاله پخوا بشري ژوند موجود وو.
اوس به راشو د مندوزیو سیمې درې سوه (۳۰۰) کلن تاریخ ته : څه د پاسه درې سوه (۳۰۰) کاله پخوا

چې مندو د مندوزیو په سیمه کې هستوگنه اختیار کړه او ورور یې سمال ( اسمعیل) په اسمعیلخېلو کې خپل ژوند پیل کړ ، دواړو ورونو خپل د ورور گلوۍ تعلقات په ښه ډول سره ساتل ، د غم او ښادۍ په وخت کې به یې راشه درشه سره کوله ، د دوی هدیره یوه وه دغه هدیره د مندوزیو په صحرا کې په جنوب غرب برخه کې واقع ده چې اوس یې هم اثار تر سترگو کیږي.

په نولسمه (۱۹) میلادي پېړۍ کې چې د انگرېزانو (پېرنگیانو) جاسوسي شبکو په خوست کې د بې اتفاقۍ تخم دشیندلو په خاطر فعالیت پیل کړ ، نو د مندوزیو په قوم باندې یې د سپین گوند نوم کېښود او د اسمعیلخېلو په قوم باندې یې د تور گوند نوم کېښود ، چې په نتیجه کې دنوموړو قومونو ترمنځ بې اتفاقي پیدا شوه او د غم او ښادۍ شریک عنعنات یې له لاسه ورکړل ، ورور گلوي او دوستي یې په دښمنۍ او نفرت بدله شوه ،د دواړو قومونو تر منځ جنگ او جگړې پیل شوې چې دواړو خواوو ته پکې ډېر مالي او ځاني تلفات ورسېدل.

په (۱۲۵۷ ه ش ) کال د افغان او انگلیس په دوهمه جگړه کې د جدي میاشتې په وویشتمه (۲۷) نیټه د پېرنگیانو (انگرېزانو لښکرې ) د مندوزیو سیمې ته راغلې او د دې سیمې ډېر کلیوالي خلک د ماشومانو په شمول د انگرېزانو د تورو تر گوزارو لاندې راغلل او په شهادت ورسېدل .چې د شهید شویو ماشومانو هدیره د مندوزیو د خوني خېلو په کلي کې واقع ده، د حسن زیو په کلي کې ځلور قبرونه چې درې د ماشومانو او یو لوی قبر د زیارت په شکل شته چې د سیمې خلک ورته د مراد د غوښتلو په نیت راځي ، داسې ویل کیږي چې دا هم د پېرنگیانو په لاس شهیدا شوي دي ، د دې تر څنگ په دغه جگړه کې چې کوم خوستیان شهیدان شوي دي د هغو هدیره یا قبرونه د مندوزیو د صحرا په جنوب شرق کې د خواجه زیارت په شاوخوا کې موقیعت لري.

دا خبره هم باید جوته کړو چې مندو او سمال د مومندو قوم ته منسوب دي چې اوس مهال دغه د موممندو قوم د ډېورنډ کرښې دواړو غاړو ته پروت دی ، د موممندو قوم ته منسوبې ډېرې قبیلې اوس د مندوزیو په سیمه کې اوسیږي ،ځانونه مومند بولي او د دې سیمې د اصلي اوسېدونکو په توگه خپل ځانونه خلکو ته وروپېژني.

د مندوزیو په سیمه کې علاوه پر اصلي اوسیدونکو د نورو قومونو اوسېدونکي هم شته چې د وخت په تېرېدو دې سیمې ته راکوچېدلي دي ، د مندوزیو سیمه پنځه (۵) طایفې لري د غرب څخه شرق خواته په ترتیب سره لومړۍ طایفه د شډل او حسن زیو ، دوهمه طایفه د درنامیو،دریمه طایفه د شوبیخېلو (شبي خېلو) ، څلورمه طایفه د سمال زیو او پنځمه طایفه د سلمادیو (حسن محمد) ده. د سلمادیو په

طایفه کې مومند ، مقبل ، اوخونزاده ګان ، ټني او فقیران اوسیږي ، د دې طایفې اصلي اوسېدونکي مومند دي چې په لومړي ځل دغه ځای ته راغلي دي او د دې ځای په ځمکو یې تصرف کړی دی.
د سمال زیو په طایفه کې ځدراڼ، مقبل ، مسعود ، داوړ ،صبري ، تنې او کونډي اوسیږي د سمال زیو طایفه درې کلي لري (دکانو کلی، چنداړ او پاینده خېل) ،د شوبي خېلو په طایفه کې مسعود، کندهاري ابدال خېل او موت خېل اوسي، د درنامیو په طایفه کې غلجي او دقصین سیدان اوسي ، د حسن زیو او شدېل په طایفه کې تنې ، مقبل ، ځدراڼ ، منګل ، غلجي،پیران او خروټي هستوګنه لري.
د سمالزیو طایفې د دوکانو په کلي کې یوه تاریخي پخوانۍ کلا هم موجوده وه چې اوس په دغه کلا کې کورونه جوړ شوي دي دغه کلا د سیمې خلک جنګ کوټ بولي او ځینې یې جنګي کوټ بولي مګر انګرېزانو دغه کلاجهان کوټ په نامه بللي ده . دافغان او انګلیس په دوهمه جګړه کې انګرېزانو د جنګي کوټ کلا خپله قرارګاه ټاکلي وه او خېمې یې په کې وهلي وې ، د طالبانو د ریژیم په وخت کې د لندن څخه یو نماینده چې افغان و دغه کلا ته د خپلې موخې د پیدا کولو په خاطر رالېږلی و هغه هم دغه کلا د جهان کوټ په نامه یاده کړي وه ،زما په اند داسې مالومیږي چې جان کېټ Jon ket یا (johan cat د انګریزانو د هغه وخت یو لوړپوړی منسب دار و ځکه یې دغه کلا د ده په نوم نومولي چې وروسته بیا په جهان کوټ ، جنګي کوټ او جنګ کوټ نومونو یاده شوي ده.((د جان کوټ په څېر د خوست په نورو ډېرو ځایونو انګریزانو د خپلو خلکو نومونه ایښې لکه ابټمان (ابټمون) مسټر بل (مستربل) وغېره ، داسې ویل کیږي چې په دې سیمو کې انګرېزانو څهل متري (څلوېښت ګزي) قبرونه جوړ کړي و ، چې دلته یې خپل تاریخي اثار ، سلاح ګانې او نورمهمات ښخ کړي و ، چې دا تاریخي اثار ، سلاګانې او مهمات له دې قبرو څخه په غلا وخت په وخت ایستل شویدي.))
د مندوزیو سیمه شپږ ښونځي لري چې د دې شپږو له جملې څخه یې دوه د ذکورو او څلو د اناثو ښونځي دي.د ښونځویو نومونه او د شاګردانو تعدا یې په لاندې ډول دی.
د څېرېن د عالي لیسه چې د شاګردانو تعداد یې درې زره پنځه سوه (۳۵۰۰) تنو ته رسیږي چې له دې جملې څخه یې تقریبا اوه سوه (۷۰۰) نجونې دي ، د خان مندوزي د ذکورو عالي لېسه چې د شاګردانو تعدا یې دوه زره څلورسوه (۲۴۰۰) تنو ته رسیږي ، د پاینده خېلو د نسوانو لېسه چې د شاګردانو تعداد یې اته سوه پنځوس (۸۵۰) ته رسیږي ،د شهبازخان دنسوانو منځنی ښونځی چې د شاګردانو تعداد یې پنځه سوه (۵۰۰) ته رسیږي ، د حسن زیو د نسوانو عالي لېسه چې د شاګردانو تعدا یې شپږ سوه (۶۰۰) ته

رسيږي او د شډل د نسوانو منځنی ښونځی چې د شاګردانو تعداد يې نهه سوه پنځوسو (۹۵۰) ته رسيږي
.

د مکتبونوسربېره د مندوزيو قوم د ابن عباس په نوم يوه لويه ديني مدرسه هم لري ، چې تر اوسه يې په زياته اندازه ديني عالمان روزلي، چې د همدې قوم د حسن زيو د کلي د يوه ديني عالم (مولوي صيب کليم الرحمن ) په هلو ځلو سره په کال ۱۴۱۷ هجري قمري کې د همدې قوم د ښبي خېلو او درناميو په شريکه ځمکه کې د ٦ جريبو په مساحت سره جوړه شوه .دې مدرسې په لومړيو کې شپږ کوټې درلودې چې ديوې مؤسسې لېخوا ورته جوړې شوي وې. خو وروسته ، وروسته يې چې ځومره شاګردان زياتېدل همدومره يې کوټې هم زياتېدلې، لومړنی مهتمم يې همدا مولوي صيب کليم الرحمن و، خو کله ، چې نومړي د طالبانو د نظام پر مهال د امر بالمعروف و نهي عن المنکر په عهده مقرر کړی شو نو د مدرسې د اهتمام څخه معزول کړی شو ، د هغه وخت د دولت لېخوا ورته يو بل تن مهتمم مقرر کړی شو خو ډېر زر يې دا هم معزول کړ او پر ځای يې د همدې سيمې يو بل روحاني شخصيت خليفه صيب د مهتمم په صفت وټاکه چې تر اوسه هم په خپل ځای پاتې دی .د خليفه صيب په راتګ د مدرسې طالب العلمان ورځ تر بلې ډېرېدل ، د دې مدرسې د يوې مياشتې مصارف تقريبا ۱۲۰۰۰۰ افغانيو ته رسيږي چې د سيمې د خلکو په اخلاص او چندو سرته رسيږي ، د دې مدرسې د طالب العلمانو شمېر ٦۰۰ تنو ته رسيږي ، او د استادانو شمېر يې ۱۳ تنه دی ، په دې مدرسه کې د خوست سربېره د افغانستان د نورو ولايتونو لکه پکتيا، پکتيکا ، لوګر ، غزني ، کابل ، چاريکار او د لغمان اوسېدنکي هم په خپلو ديني زدکړو بوخت دي.

د I.R.C د شمېرنې په اساس مندوزي ٧٦ کلي لري ،چې هر کلی ۲۷۰ فاميله لري، او هر فاميل په تقريبي ډول ۷ نفره حساب شوی ، چې د دې شمېرنې له مخې مندوزي ټول ۱۴۳٦۴۰ تنه نفوس لري .خو دا شمېر دقيق او کره ندی ، د نوي سرشمېرنې وروسته به يې دقيق او کره نفوس څرګند شي.
د مندوزيو قوم چې په فعلي خالت کې قرار لري ، ختيځ ته يې د عليوات خېلو کلی په پخه ځمکه کې او په صحرا کې د سموات کلي سره ګډه پوله لري.
د جنوب لور ته يې د شمل خوړ چې د سيمې خلک يې د (توی) په نامه يادوي ، چې سرچينه يې له ځدراڼو څخه ده پروت دی ، چې د اسمعېل خېلو د قوم سره يې د طبيعي پولې حيثيت خپل کړی دی ، څرنګه چې اسمعيل خېل هم په څو لويو کليو وېشل شوي دي .له دې جملې څخه د مندوزيو سره د خوړ په ذريعه جدا شوي کلي عبارت دي له : ډډوال، برخانخېل، کوبل خېل ، مته خان ، د لېوري او پير کلي

وغېره دي.

د مندوزيو قوم لويديځ لوري ته د تڼيو يو د څلورو قومونو څخه جوړ شوی يو لوی کلی د داخيو په نوم موقيعت لري او داسې ويل کيږي چې داخي هم د مندوزيو لخوا د يو مصلحت پر بنياد له تڼيو څخه راوستل شوي او پدې ځمکه کې ځای ورکړل شوی دی.

شمال ته يې د د ځدرانو يو ښاخ د ځاني خېلو پر نوم پروت دی چې دا خلک اکثرا په غره او درو کې ژوند کوي.

د مندوزيو قوم په صورت عموم علم پروره او کسبگر خلک دي چې ښه بېلگه يې د پخوانيو حکومتونو لوړپوړي چارواکي دي چې په لويو لويو پوستونو او منصبونو يې دندې اجرا کړيدي او د کسب نمونه يې په اوسني قوم کې د کسب گرو کلي دي لکه: په حسن زيو کې د زرگرانو کلی، د کلالانو کلی او د حسن محمد کلي کې د پښانو کلی.....

د مندوزيو قوم په ستراتيژيک لخاظ هم يو مهم حيثيت لري ځکه چې د خوست ، پکتيا ، لوگر او کابل عمومي سرک يې له منځه تېر شوی دی ، او پخوا له دې هم چې پياده مزلونه کېدل خلک او تجارتي کاروانونه له همدې لارې تېرېدل چې په اساس يې د خلکو او تجارانو د سهولت لپاره ځای پر ځای سرايونه ،چې کاروانونو به شپې پکې سبا کولې موجود ؤ او همدارنگه ځای پر ځای د غلو او لارشوکونکو د شر څخه د خلاصي په عرض پړاونه هم جوړ شوي ؤ.

له بله طرفه د ځدرانو څخه د اوښانو بهيرونه چې چارتراش لرگي (تمبې) به يې راوړې له همدې لارې راتلل او د مندوزيو په نيمايي کې به اسمعېل خېلو ته پورې کېدل،چې بيا به پاکستان ته وړل کېدل.

د پکتيا او لوگر بهيرځن به هم پدې لاره تلل راتل حتا چې د شمالي ولاياتونو سوداگر چې د اسونو گلې به يې هند او اوسني پاکستان ته بېولې او له هغه ځايه به يې مېښې او غواگانې راوستلې په دې لاره تېرېدل.

د کوچيانو خو د مندوزيو ډاگ صفتونه په هر ځای کې خوله په خوله و، خلک چې د کوم شي او يا کوم ځای صفت کوي کوچيان وروڼه د مندوزيو او د مندوزيو د ډاگ (صحرا) صفت کوي ، او ښې خاطرې يې بيانوي او د همدې ښې گزارې په اساس يې څو ځايه هديرې هم شته چې اوس وخت کې هم خپل مړي دلته راوړي او دا خلک يې په پوره پښتونولی سره د مراسمو ترسره کولو وروسته خاورو ته سپاري.

يو بل کوچي (خانه بدوش ) قوم مسليان دي چې په اوړي کې راځي او په ژمي کې گرمو سيمو يعني پاکستان ته ځي هغوی هم دلته په مندوزيو کې ډېر خوشاله وي او د ټنگ ټکور مجلسونه يې گرم وي ، د

ا خلک د خپلو غلو ،دانو او باغونو مېوې د حق په بنه دې خلکو ته ورکوي يعني د ذکات برخې څخه علاوه د خپل کور غله دانه او مېوې ورکوي حتا د سوځولو لپاره لرگي او د حېواناتو لپاره به يې بوس هم ورکول . او د دې وخت تېرولو په جريان کې چې تقريبا ۳ يا ۴ مياشتې به و د خان بابا (خان مندوزي ) په جمع کې به يې هره ورځ او شپه مجلس گرم و.

خو نن سبا د دې دواړو ډولو کوچيانو او مسليانو راتگ کم شوی او له نشت سره برابر دی که ووايو چې مسليان خو بيخي راځي نه، هم تر يوه بريده به سم وي ، علت يې په د پراخه صحرا کې د قوم د خلکو لخوا ابادي او همدارانگه په يوه برخه کې يې د دولت لېخوا په څو زره جريبه ځمکه کې د افغان ملي اردو لپاره د تاسيساتو جوړول دي چې د دې صحرا پراخوالی يې بيخي رامحدود کړی دی.

د مندوزيو قوم په هر کلي او هره طايفه کې به څو لويې او څو کوچنۍ جمعې موجودې وي چې خلکو به ترې په جرگو مرکو، ټنگ ټکور، لوبو ،حېرات او داسې نورو موارادو کې استفاده کوله ، دا جمعې اوس هم شته خو په نشت حساب دي.

د مندوزيو قوم عمومي مرکه او جرگه به په لوړو درمندو نومي ځای کې چې په شبي خېلو کې موقيعيت لري کېدله چې مشران به يې د خان مندوزي په جمع کې جرگه کېدل او ځوانانو به په درمندونو کې اتڼ کولو تر څو به فيصله وشوه او مرکه به ړنگه شوه ،کله به چې مهم موارد ؤ او جرگه به وځنډېده ځوانان به هم د اربکيو په څېر هلته موجود ؤ ډولونه به وهل کېدل ،اتڼونه به يې ورته کول داسې مرکې هم شوي چې تر يوې هفتې پورې ځنډېدلي دي.

د شبي خېلو کلی د خان صيب جمع او لوړ درمندونه ځکه د عمومي جرگې لپاره ټاکل شوي و ،چې دا د قوم منځ دی ، اوس هم په همدې ځای کې د قوم شريکې جرگې او مرکې کيږي.

مندوزيو اخترونه په گډه لمانځل او لمانځی يې ، پخوا به په اخترونو کې د نجونو مېله ځای د پير باغ زيارت و او هلکان به بيا د درې ښاونو په نوم زيارت ته تلل او خپلې مېلې به يې کولې، د پير باغ زيارت د شبي خېلو کلي په شمالي برخه کې موقعيت لري او درې ښاونو زيارت بيا د کلي څخه بهر په شمال لوېدېځه صحرا کې موقعيت لري . خو نن سبا دغو زيارتونو ته تگ نه کيږي که کيږي هم په نشت حساب دی.

د مندوزيو اولسونه په پوره اتفاق سره ژوند کوي ، د غلا ، تبنتونې ، او يا بل داسې ناخوښ کار په مقابل کې د خلک د خبرولو لپاره يو محسوس ډول وهل کيږي چې د (چيغې ډول ) په نوم ياديږي . د دې ډول په وهل کېدو خلک محصوص ځای ته ځان رسوي او د خپلو مشرانو په هدايت عمل کوي.

او همدارانگه د اشر لپاره هم يو ډول محصوص ډول وهل کيږي . خو نن سبا د دې دواړو ډوله ډولونو

ځای لوډسپیکرونو نیولی دی . دا ډولونه اوس نه وهل کیږي که کیږي هم په نشت حساب دي.
د ژوند معیشیت یې مالداري ، کرکیله او لږه اندازه تجارت و ، چې اوس هم خلک په همدې مشغول دي ، خو نن سبا یې زیاتره ځوانان په عربي او اروپایي نړۍ کې مسافر دي . او همدارانگه په اردو ، پولیسو او نورو دولتي برخو کې دندې اجرا کوي.
سپورتي لوبې یې منډې وهل ، خوسی خوسی ، تېږه اچول ، ټوپ وهل ، نښه ویشتل ، نېزه بازي ، کبډي کول ، غېږ نیول ، کونۍ کونۍ کول ، خوسا لوټه ، پټ پټونی ، چندرو او د سپېنتیو گټل و ، چې اوس د دې څخه کبډي ، چندرو او تېږه اچول پاتې دي خو هغه هم په ډېره کمه اندازه ، دا نورې لوبې خو بیخي له منځه تللي دي ، او پر ځای یې والیبال ، فوټبال او کرکټ ډېر رواج دي ، حصوصا د کرکت برخه پکې ډېره ده.

(((((مننه او کورودانی : د ښاغلي مدیر صیب عبدالواحد ، سرمعلم صیب عزیز ، معلم صیب رسول محمد،د خوست د اطلاعاتو او کلتور پخواني ریس عبدالکریم پتنگ او مولوي صیب حسېن گل څخه زښته زیاته مننه چې د مالوماتو په راټولولو کې یې راسره کومک او همکاري وکړه .)))))


**قدرت الله درمان**

## د مندوزیو سیمې انځورونه:




دمندوزیوحسن زیوکلی
HASSANZAI VILLAGE



























Www.sikaraam.com







**پای**